# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# د خدائ پاک ابراهیم سره وعده



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Tammy S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



د نوح د طوفان نه
وروسته خلقو یوه
منصوبه جوړه کړه.




هغه وخت په ټوله زمکه ټول خلقو
صرف یوه ژبه وئیله. او هغوئ خپلو
کښې یو بل ته ووئیل چې راځئ چې یو
دومره اوچت برج جوړ کړو چې د
آسمان ته ورسیږی. دا ځکه
چې مونږ
همیشه
ژوندی
پاتې شو.
3


خدائ پاک غوښتل چې ټول انسانان دې په
دنیا کښې ژوند کښې وی. نو په دې وجه
خدائ پاک د هغوئ ژبې د یو بل نه بدلې
کړې او د هغوئ په مینځ کښې یې
اختلافات پېدا کړل.
4


پس د دې نه چې هغوئ د یو بل په خبرو باندې نۀ پوهېدل
نو هغوئ ټول په خپلو کښې بیل بیل شول، او د برج جوړل
پاتې شول نو په دې وجه یې د هغه ښار نوم بابل کېښودو
چې معنی یې
ګډوډی ده.
5


د دې نه ډېره موده
وروستو مالک خدائ
ابرام ته ووئیل چې تۀ
خپل وطن، خپل مور
پلار او رشته دار
پرېږده او هغه ملک
ته لاړ شه کوم چې
زۀ تا ته ښایم.
6


نو ابرام د خدائ پاک حکم ومنلو او خپله ښځه سارئ او
خپل وراره لوط یې هم د ځان کړل او کنعان ته روان شول.
7


په کنعان کښې ابرام او لوط ډېر
شتمن شول، هغوئ سره ډېر
زیات رمې وې. خو د هغوئ د
پاره د څرن ځائ نۀ وو.
8


نو په دې وجه باندې د ابراهیم او د لوط د
شپونکو په مینځ کښې جنګ وشو. نو په
دې وجه ابرام لوط ته ووئیل چې مونږ به
جُدا شو. او چې چرته ستا خواښه وی نو
هلته تهٔ لاړ شه.
9


لوط د اردن هوار میدان ولیدو او هغه یې خوښ
کړو. ځکه چې په هغه علاقه اوبه ډېرې وې
هلته د ښارونو په مینځ کښې دیره شو. چې د
هغه ځائ خلق ډېر خراب
او ګناهګار وو او د مالک
خدائ خلاف وو.
10


چې کله لوط د ابراهیم نه لاړو نو خدائ
پاک ابرام ته وفرمائیل چې زهٔ به کنعان
تا او ستا اولاد له ورکوم. خو هغه وخت
د ابرام او سارئ اولاد نهٔ وو.
11


بیا
خدائ
پاک ابرام او سارئ له درې
ساړی راولیږل. او ابرام او سارئ ته یې وفرمائیل چې ستا
به زوئ کیږی خو سارئ د هغوئ په خبرو باندې یقین ونهٔ
کړو ځکه چې هغه وخت هغه د لس کم سلو کالو وه.
12


او هغه وخت خدائ پاک ابرام تا وفرمائیل چې د نن نه
پس ستا نوم ابرام نه بلکې ابراهیم دے. او د سارئ نوم
به سارئ نه بلکې ساره وی.
13


خدائ پاک ابراهیم ته
وفرمائیل چې زهٔ سدوم او
عموره چې خراب ښارونه
دی تباه کول غواړم. او
لوط هم هغه وخت په
سدوم کښې اوسېدو.
14
















د خدائ پاک ابراهیم سره وعده

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

پیدایښت ۱۱-۲۱

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

20




4

60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲